
# Welcome Afghans



# کور ته ښه راغلاست - مونکټون، نیو برونزویک




نفوس: **۱۵۷،۷۱۷ خلک ([۲۰۲۱ سرشمېرنه](#))**
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځې آسیا خلک، عربان او افغانان په کې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

[نیو برونزویک](#)[۱]

- د کاناډا په ختیځ کې یو ساحل کې دی
- په کاناډا کې د نووا سکوشیا او کیوبیک، او د متحده ایالاتو اړوند له ماینې ایالت سره ګډه پوله لري
- د کاناډا د دوه ګونو رسمي ژبو (فرانسوي او انګلیسي) اړوند ولایت او یوه له خوښیو ډکه [اکاډین ټولنه](#)
- چې د نویو کډوالو په رارسېدو سره پکې ګڼه ګونه ډېره وده کړې ده

د لوی مونکټون سیمه

- په [نیو برونزویک](#) ولایت کې موقعیت لري
- چې په دې کې د [مونکټون](#)، [دایپي](#)، او د [ریورویو](#) ښارګوټي شامل دي
- او په کاناډا کې یو له [ترټولو چټکو وده کوونکو ښاري سیمو څخه یوه ده](#)
- متنوع ده

لوی مونکټون د خپلې بډایه طبیعي ښکلا له مخې پېژندل کیږي. [ژمي](#) یې سوړ او واورین وي چې د جنوري په میاشت کې یې ورځنۍ د تودوخې منځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه ۱۲- درجې وي. اوړي یې ګرم وي چې د جولای په میاشت کې یې په منځنې ډول د تودوخې درجه 25° درجې د سانتي ګراد په کچه وي.

---

[۱] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



له منظرو ډک جونز جهیل، مونکټون.

## د مونکټون خلکو او ځمکې په اړه

د دي ځایي خلک په کاناډا کې له اروپایي میشتو او هغو خلکو له رسیدو څخه مخکې دلته اوسیږي چې دغه ځمکه یې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه. مونکټون، لکه د نوي برونزویک د ډیرو برخو په څیر، د مالیسیت او میکماق (میګ- ماه) ملتونو په **دودیزه** سیمه کې موقعیت لري.




د مونکټون ښار مرکز.

## ورځنی ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

لوی مونکټون په دنده کې د پرمختګ، سوداګرۍ کولو، زده کړو او بشپړ ورځني ژوندانه لپاره غوره ځای ګڼل کیږي.

تاسو کولی شئ د لوی مونکټون اړوند په دغو صنعتونو یا فابریکو کې دندې پیداکړئ لکه

- روغتیا
- ښوونه او روزنه
- ترانسپورټ
- ودانیزې چارې
- بیمه
- سیاحت

یکې لړ تر لړه رسمي تنخواه په یو ساعت کې ۱۴٫۷۵ ډالره ښودل شوې ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوې. د یوې کورنۍ لپاره یکې د کور اخیستلو منځنۍ قیمت نږدې ۵۳۵٫۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکې اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱٫۱۰۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د نوي برونزویک له ځایي دولت څخه د کور کرایې کونکو او کرایې ورکونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

په لوی مونکټون کې ګڼ شمېر ښوونځي، د ورځنی پاملرنې خدمات، او له ښوونځي وروسته پروګرامونه په دواړو انګلیسي او فرانسوي ژبو کې شتون لري. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (له ۳ یا ۴ کلنی) څخه تر ۱۲م ټولګي (تر ۱۷ یا ۱۸ کلنی) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي کالج یا پوهنتون ته ولاړ شي یا هم دنده پیل کړي.

نوی برونزویک څلور دولتي پوهنتونونه لري

- د مونکټون پوهنتون
- د نوي برونزویک پوهنتون
- د ماونټ ایلیسن پوهنتون
- د سینټ توماس پوهنتون

دلته د ټولنې څلور کالجونه هم شتون لري چېرته چې تاسو کولی شئ په نوي برونزویک کې زده کړې وکړئ

- د ځنګلي تکنالوژۍ سمندري کالج
- Collège communautaire du Nouveau-Brunswick
- 
- د نوي برونزویک د ټولنې کالج
- د نوي برونزویک د لاسي صنایعو او طرحه ریزۍ کالج

دلته تاسو کولی شئ په ګڼ شمېر سپورتي لیګونو کې لوبه هم وکړئ، لکه

- منډې وهنه
- سکواش
- هاکي
- کرکټ
- ګولي فوټبال (فوټبال)
- باسکیټبال
- لامبو وهنه

له YMCA څخه د تفریحي فعالیتونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ له ګڼ شمېر عامه پارکونو او د چکر له ځایونو څخه په اوړي کې او له تفریحي فعالیتونو لکه د واورې له غرنیزې لوبې، د واورې له عادي لوبې او د یخ له لوبې څخه په ژمي کې خوند واخلئ.

دغه سیمه خپل د خوښیو ډک ژوندانه هنري او کلتوري صحنو په ګډون

- د تیاتر یا سینمایي تولیداتو
- او نورو فعالیتونو د لرلو له مخې پېژندل کیږي
- مجلسونه
- جشنونه
- د موسیقی

## دیني او کلتوري اتحادیې

د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور لاندې، تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکي اداره کولی شي له تاسو سره په نیو برونزویک کې د سیمه ییزو کلتوري اتحادیو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي.

## ځانګړي خواړه

په دې سیمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمېر پلورنځي نړیوال خوراکي توکي پلوري. ډېری لوی سوپر مارکیټونه او د مینځني ختیځ اړوند ګڼ شمېر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکي اداره کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سیمې ته نږدې پلورنځی پیداکړئ.

# د نویو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سیمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نورې سرچینې

- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د خپرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوي خدمتونه پیداکړئ
- کډوالي او په کاناډا کې ځای پرځای کېدل
- د کډوالۍ لوی مونکټون
- د مونکټون ښار
- د ډیپي ښار
- د ریور ویيو ښار
- د کډوالو د ځای پر ځای کولو مرکز
- د مونکټون د پاملرنې مرکز
- د لوی مونکټون څو کلتوریزه اتحادیه MAGMA-AMGM